# لعنت کوونکي کسان به د قيامت په ورځ نه شاهدان وي او نه شفاعت کوونکي

له ابو الدرداء -رضي الله عنه- څخه روايت دی چې: ما له رسول الله -صلی الله علیه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «لعنت کوونکي کسان به د قيامت په ورځ نه شاهدان وي او نه شفاعت کوونکي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک پر هغه چا زيات لعنت وايي چې هغه يې مستحق نه وي، نو دی د دوو سزاګانو مستحق دی: لومړی دا چې: د قيامت په ورځ به پدې شاهدي نه ورکوي چې پېغمبرانو خپلو امتونو ته پېغام رسولی دی، او په دنيا کې به يې شاهدي نه قبلېږي، ځکه چې فاسق دی، او د الله په لار کې قربانېدل به يې نه نصيب کېږي. دويمه دا چې: د قيامت په ورځ به دی هغه مهال شفاعت نشي کولی؛ کله چې مؤمنان د خپلو هغو ورونو لپاره شفاعت کوي چې اور ته د داخلېدو پرېکړه يې شوې وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5495

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee